# د اوبو په
# منځ کې
# اور

Ketabton.com

تألیف : احمدالله مسلمیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبو په منځ کې اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیژند پانه :

د کتاب نوم: د اوبو په منځ کې اور

لیکوال: احمد الله « مسلمیار »

چاپ شمیر: ۱۰۰ ټوکه

لومړی چاپ : ۱۳۹۶ ل کال

طرح او ډیزاین : فضل الله « მاموند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاعر پېژندنه :

په (۱۳۷۷) لمريز کال کې د پکتيا ولايت په سيد کرم ولسوالۍ د کوه سين په سيمه کې يو داسې ستورى دنيا ته راغى چې په راتګ سره يې د کوه سين سيمې ته خوشحالي او په حقيقت کې يې ټولې پکتيا ته روښنايې ورکړه دغه پر ثمره ونې د تل لپاره د خپلو هيواد والو لپاره ميوه توليده ،او د خپلې ميوې په واسطه يې خلک او خپل هيوادوالو خوشحاله ساتل او هميش لپاره يې يو غږ په خوله باندې جاري وو چې هغه مينه او محبت وو.

دغه روښانه شخصيت ښاغلى احمدالله مسلميار د ښاغلي حاجي صاحب نور زوى دى ،نوموړي د ښوونځي په دولسم ټولګي په وروستيو کې چې هغه مهال ۱۸ کلن وو د شاعري دنيا ته يې مخه کړه.

د احمد الله مسلميار سره په دې ډګر کې زياته مرسته د نوموړي کورنۍ، ملګرو او په خاصه توګه د هغه ورور يعنى ګلاب حقيار او د هغه ملګري يعنى فضل الله ماموند کوله.

نوموړي خپل لومړۍ شعري ټولګه په ۱۳۹۶ ل کال د روژې له مياشتې پيل او د همدې کال د حوت په مياشت کې پاي ته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوکـــــه

تا خو ویل چې زه په تا بانــدې میـــــنه یـمــه
سحر ماښـــــام به دې ژړا چې غمجــنه یـمـه

خو نن دې زما تصویر څیزلی او هیر کړی دې یم
هم دې له زړه نه یم ویستلی خفـــه کړی دې یم

زه هم انسان یمه داستا په شانې ژونـــــد غواړمـــه
کله نا کله ســتا د ســرو شونډو دیـــدن غواړمـــه

زما د ژوند کیسې چــې واورې په ژړا به شې تـــــه
د بل ملګري به دې لاس وینــځې او رابه شې تـــــه

راځه د هـــر څه نه به تېر شــــو غم زغملی شــمه
دا ســتا د ناز،ادا غـــوصې په ځـــان منـــلی شــمه

خوشــحالې نه لرم غمـونـــو کې لوې شـــوی یـــمه
دا ســـــتا د لاسه په دردونـــو کې لوې شـــوی یـــمه

احـــمـــده بس کړه نـــور دې نه مـــــنې جانان خبره
هــــغــــه خودخواه ده همېشــــه مـــــنې د ځان خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شوګير

يواځې نن شپه نــده ځـــکه ژاړم
دعــا کومــه تا له خدايــه غـواړم

ټولو نظر کې خو زه ښه ښکارمـه
تــه هم راوګوره چې څنګه ښـکارم

دغه ديـــــدن به اخيري وي زمونږ
خداي پامــاني اخلمه درنـــــــه لاړم

احمده دومــــــــــره کبرجنه نــــه وه
اوس راته وايي چـــې ښـنه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه فریاد

ته څه خبره يې چې څه وايم او څه ليــــکمه
دا ستا په ياد کې ګرانې نن خپله کيسه ليکمه

ما خو ويل دا د ژړا اوښکې به ختمې شينه
ورکه مې خولې نه شوه خندا درته ګيله ليکمه

ما خــــو ستا سترګو کې مــدام خپله څېره کتله
خو نن دې زړه نه يم ويستلی نور به څه ليکمه

زه دې د غرونو ليونی کړمه او هېر دې کړمــــه
دا په خوله نه وايم دا ټول درته له زړه ليــــکمه

احمده هسې هــــم غمونو کې لوی شوی يمــــه
نن د هميش لپاره تانــــه مــخه ښــــه اخلــمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له غمه خندا

په خوله خندا کړمه خو زړه کې مې اورونه بل دي
د چا له غمه مې د زړه سره دردونه مــــل دي

ما خو ویل چې ته به زما د مینې کور جوړوې
خو نن دې مینې پرځای ما سره غمونه مل دي

ما خو ستا سترګو کې مدام ګرانې وفا کتله
ای بې وفا خو نن دې ما سره یادونه مل دي

نور دې یادونه هېروم هم دې له زړه باسمه
مدام مې زړه کې د دوکې هغه لفظونه مل دي

احمده ته هم نن ډیر ژر پر چا اتبار مه کوه
اتبار د لاسه دې مدام زړه کې سوچونه مل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شینوګۍ

چا راتــــه ویل چې شینوګۍ پــــر تــــا مینه ده
هسې په خوله خاندي په زړګي باندې غمجنه ده

یو ورځ یې د چا په لاس د مینې خــــط راواستوو
غــــبرګ یې کړ شینو دا د هغــــې د لاس لیــــکنه ده

کــومه ورځ چې تا د بل هلک په لور کاته وکړو
زه هم په تا پوی شومه ستــا مینــــه دروغجنه ده

لارې مو دې بندې تګ راتګ مو سره نه کیږي
د ژمي موســــم دې هــــوا ډیره کــــرکیچنه ده

هغه زما ملګري به مدام راتــــه ویــــنا کــــړله
بس کــــړه نور احــمــده لیلا ډیره کبــــرجنه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مينه

خلکو راته ويل چې مينه مـــــکوه تبـــاه بـــه شې
ژوند به دې کړې خاورې اوسيدونکی د صحرا به شې

مينه مې لا پيل نه وه غمونو ســــــــره مـــل شومه
دا يې ويل ګـــــــــوره ته د خـــلکو د خنـــــــدا به شې

زه دې هم نـــــــــازونو او ادا ته فکــــــــر وړی يم
زما کــــــه دې د نـــيمو شپـــو ژړا ولـــــيده رابـه شې

هسې ســــتا په ستــــــرګو کې ما خپل تصوير ليدلی وو
نن وي که ســـبا زما د ستــــرګو نـــه پنـــاه بـــه شې

ستا بې وفا يي رانــــــه د مينی نـــــوم هـــــم هېــر کړلو
زما که دې وفا ولـــــيده هـــلـــه پـــه ژړا بـــه شـــــې

بس کړه نور احـمـده دلته مــيني په نـــوم څـــه نشتـــــه
هغه بې وفـــا شــــــوله او وايي څنـــــګ تـــه رانــه شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يار

زما د ميني يار ته وايه سلامونه
چې خفه نشي وروړم ګلونه

يوازې نن نه ده مدام كوي نازونه
چې خفه نشي وروړم ګلونه

هغه زما دسترګو تور دی
چې خفه نشي وروړم ګلونه

واوره زما د زړه ټكور دی
چې خفه نشي وروړم ګلونه

يار خو مې پوي دی هغه پيژني وختونه
چې خفه نشي وروړم ګلونه

له ځانه ډير راباندې ګران دی
چې خفه نشي وروړم ګلونه

د زړه ګوګل كې يې دوكان دی
چې خفه نشي وروړم ګلونه
غمازان تل كوي احمد سره جنګونه
چې خفه نشي وروړم ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غم

یوه خو غریبي ده بل غمونه د جانان شي
کوم ښکلی چې وګورم له ځانه راته ګران شي

وي دې غریبي نشم زغملی د جانان غمه
لاره راته وښایه چې کور زما ودان شي

هغه څو ملګري چې له زړه نه راته ګران وي
مینه کې زما په وړاندې ټول بیا غمازان شي

بس کړه بې پروا لړ خو زما حالات هم وګوره
ما باندې خو هره شپه په ویښه دهجران شي

زه احمد هم ستا له غمه هر وخت در په در یمه
غم شي را تازه کله چې ستوري په آسمان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لېونتوب

لاره رانه ورکه ده هيڅ نه پوهيږم څه وکړم
لاړ شمه صحرا ته ستا غمونو سره شپه وکړم

هر وختې مې ځيزي ستا غمونه د انګار په شان
کله لېونو په شان له ځان سره ټپه وکړم

ځان باندې دې فکر کړه زما په فکر مه اوسه
نن وي که سبا له دې دنيا به مخه خه وکړم

زه احمد هم ستا په شانتې ژوند غواړم ګلشن غواړم
ستا راتلو لپاره به د لارې ننداره وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا مینه قفس دی

ستا مینه قفس دی راوتل ترې ډیر مشکل ښکاري
وځوریږم چیغه کړم هغه تاته ګایل ښکاري

هیڅ راحت مې نه وي توره شپه په ویښه تېره کړم
دغه ټول دا ستا د مینې ماته لوي لامل ښکاري

مینه چې څوک کړي د ژوند کارونه تربنه پاتې وي
ستا مینې د لاسه احمد خلکو ته کاهل ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د آسمان ننداره

سپوږمۍ ته وګورم اشنا مې یاد شي
د هغې ښکلي مخ ځلا مې یاد شي

بل خوا وطن مو د ویجاړ پرلورې
حیران حیران یم دا به کله ښاد شي

یو د وطن بل د جانان غمونه
هغه د تیر مهال سبا مې یاد شي

نن مو دوستي هم د مطلب لپاره
د خداي لپاره ملګرتیا مې یاد شي

نن پر احمد ناتار د غم دی ګوره
د کوچنیتوب لوبې خندا مې یاد شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسافري

مـــورې مه راپسې ژاړه مســـــافر یم
سوځـــم ستا له غمه ځــــکه در په در یم

زه هم غواړم چې مدام دې ځنګ کې اوسم
بس قسمت دی چې خفه هر مازدیـــګر یم

چې کاوه به مې د خپــــــل زړګي دیدار
ارمــــاني د دینونــــو په ګـــودر یم

نه د ورځې نه د شپې سکون راحت شـــــته
د پردي وطــــن کارونـــــو سره سر یم

زه احمد چې کله درشم دا ستا ځنـــګ ته
مورې هلــــه به زه پوې شم بخـــتور یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جانان غم

توره شپه شي ځلاند ستوري په اسمان شي
راحت نه وي راسره غم د جانان شي

خداي پيدا کړه توره شپه سکون لپاره
لېونو په شان بيا ويښ يم تر سهاره

چې يې ياد نه کړم هيڅ ورځ مې نه تيرېږي
د هغې د خولې خندا راته يادېږي

د پښتو د رواجونو سره سر يو
دا چې لرې نن موږ دواړه له ګودر يو

ډير له مينې دې يادومه په ټپو کې
کله پروت يم ليونی لارو کوڅو کې

مازديګر شي را په ياد شي ستا يادونه
بيا له ټول بدن مې جوړ شي پرهرونه

زه احمد درته په هر لمونځ کې دعا کړم
ستا له غمه به دا توره شپه سبا کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پکتیا

زرغون زرغونه ده پکتیا ښکلو ګلونــــــو باندې
د ژمي واورې اوړي شنه ښکلو فصلونو باندې

د جګو غرونو يې مثال ټوله نړۍ کې نشتــــــه
غرونه يې پوښلې دي په ښکلو ځنګلونــــــو باندې

غم او ښادي رسم او رواج يې ټول پښتو ســـره دی
ښادي يې بيا ښکلې ښکاريږي اتنونـــــــو باندې

ګل ګـــــودرونه ګل ويالې او ګل چمــن کلي کې
د دوه مئينو سره جنګ وي ګـــــــــودرونو باندې

د اديبانو شاعــرانو دی ټاټـــــــوبی ګـــــــوره
احمد بيا خلک ژړوي خپلو شـــــــعرونو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زنداني

پروت په جیل کې یم د باندې وتی نشم
ښکلي ستوري توره شپه کې لیدی نشم

هغه ستــــرګې چې وفا پــــکې پرته وه
دهغو ستـــــــرګو لیـــــدل کولی نشم

پـــر مــــــا ظلم او ستـــــم د ظـــالمانو
پـــرهرونــــــه د بـــــدن شمېـــرلی نشم

تـــه دعا راته کوه چې له بند خلاص شم
بې له تا مـــورې هیڅ وخت تیروی نشم

زه احـمــد به دلته ساه ورکړم زندان کې
خفـــــګانونه او غمـــــــونه زغمی نشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هېواد دښمنان

د ســـــتورو ولې نن ځلا کمــه ده
هر خوا ویرونه دي خندا کمــه ده

دا هرڅه خپله مو پرځان راوستي
ماتې مو ډیره خو بریا کمـــــــه ده

سکون راحت مو د بل چا په لاس کې
د مطلبي خلکو وفا کمـــــــــــــه ده

په خپل مینځو کې دوښمني ته تیــــار
نن مینه ډیره خو سبا کمــــــــــه ده

احـــمــــــده خلـــــکو ته یووالی ښایه
نن دیــــووالي لیوالتیا کمــــــــــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مطلبي ملګری

لکه د واورې په شان سپین ښکارېدې
د خـــــــولې خبرې دې ګبین ښکاریدې

ما خو پر تا ډېر زیات اعتماد کړی وو
ماتـــــــــه له ټولو نه نیازبین ښکاریدې

د اعتماد شیشه نن مـــــــــــــاته شوله
مطلب چې بشپـــــړ شو بدبین ښکاریدې

چې رابرسېره شوه ستـــــــا بد خویونه
له ټـــــولـــــو بد ته په زمـــین ښکاریدې

احـــــمـــــــــــده هرڅه دې په خپله وکړه
مخـــــــکې خو خلکو ته زرین ښکاریدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کور نا امني

د خداي آزار زموږ په کور راغلی
نن د هرچـــا د خولې پېغور راغلی

د والـــدینو دلتــــه قـــدر نشته
د امن کور کې نن سور اور راغلی

ګوره والد نه یې خپل زوي جوړ کړی
د والـــــد مـــــخې تــه په زور راغلی

د مـــــور د سترګو یې د اوښکو بــاران
مـــورې نن ګـــوره ستا ټکور راغلی

خدایه نور رحم زموږ په کور وکړې ته
احـــمـــد وژلــو ته خپل ورور راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطن

د تن په وینو به دې ساتمه شیرین وطنه
دا سرو مال مې ستا قربان ای ګلورین وطنه

ښکلی تاریخ ښکلې شمله لري په ټول جهان کې
دښمن به پرې نږدم په دې ښکلي زمین وطنه

ویالې رواني شنې درې دې د جنت په څېر دي
زما لپاره یې د هر ځای نه زرین وطنـــــــــه

په خپل مینځو کی تل په مینه سره ژوند تیروي
دغه ویاړلې افغانان دي ای نیازبین وطنه

زه احمد ساتم به رپانده دا درې رنګه بیرغ
ته زما روح یې زما ځان ای زما شین وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوریزه

توري سترګې یې په توره شپه کې توري کړي

د نفرت جنډې یې نن تولې نسکورې کړې

احمده مینه یې له ځانه راته زیاته کړه

چې یې زلفې په ځلانده مخ را خورې کړي

## څلوریزه

د یار غم مې زنګوي زه په ځان نه پوهېـــږم
راحت خوبونه هېروي زه په ځان نه پوهیږم

احمده څه شوي زما په حال ته مرسته وکـړه
په توره شپه مې ژړوي زه په ځان نه پوهیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مطلبي عبادت

تل دعـــا کوي له خـــــدایه جنت غواړي
خپل کارونو کی له رب برکـــــــت غواړي

خو د خداي رضـــــا يې تل له یـاده وتې
بیا په زده کړو کې له هر چا لیاقت غواړي

تر مطلبه یې لمـــونځــــــــــونه او نفلونه
د جــنــت ګـټل مؤمنه هــمـــــت غواړي

په دعـــــــــــا کې یادوه د خداي رضا ته
د پاک رب رضـــــا ساتل لږ زحمت غواړي

ای احمــــــده اطاعت د نبي وکــــــــــړه
په مـــــــحشر به د هــــغې شفاعت غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوریزه

ماښامی د کلي خوند کړي

هم سپرلی د کلي خوند کړي

احمد تل ورته خوشحال وي

اختری د کلي خوند کړي

## څلوریزه

یو ځاي ژوند له میني ډک وي
خلک تړول ورته هک پک وي

ای احــمــده داسې هم شـــــته
چې تړول کار یې په تــوپک وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناراضه مینه

نن چې څوک مئین شي په نشو باندې یې سر شي
پاتې ترې د کلي هغه ښکلی مازدیـــــګــر شي

لار د نیکي پریږدي ګناهـــونـــو سره مـــــل وي
مور او پلار خو څه کړې هم خفه ترې رب اکبر شي

میــــنه بې مطلبه وي د خــــداي رضـــــا لپاره
مال ، ښایسـت چې ولري له ټولـــــو معـــــتبر شي

خــــداي رضـــا لپاره مینه نه غواړي ښایـــــسته
ښکلي چې پکې نه وي خړپړ هغـــــه ګـــــودر شي

بس کړه نور احــمــده د دوي مینه هم ګنــــــــاه ده
څوک چې مئین نه وي هـــــره ورځ به پرې اختر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معیوب

پیغور یي راکړ چې بې وسه یې پښه لاس دې نشته
دا یې هم وویل چې هیـڅوک د تمـــــاس دې نشته

ما ورته وویل چې خداي لرم نور څوک نه غواړم
بغیر له خدایه په دنیـــا کې زه هیڅوک نه غواړم

د سرې ستـــــرګو کې د اوښـــــکو بارانونه راغلل
خداي مې چې یاد کړ په زړګي یې ډېر دردونه راغلل

ویر او ژړا باندې یې ســـــر شو پسې زما آزار وو
چې زما پښه لاس پکې لاړل دغـــه کوم یو ښار وو

احـــمــــده ما پسې یې خــندل هم یې پیغور راکـــوو
پیغور بدل کې یې هـــــر وخت د زړه تکور راکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوریزه

نشه یم د جانان نـــــوم راته واخله
غوصه یم د خپل ځان نوم راته واخله

احمده چی د یار غم پرې نظـــر کړم
د هغسې چشمان نوم راته واخلـــــــه

## څلوریزه

سترګې سرې د یار له غمه
وینښې شپې د یار له غمه

د احمد په خوله مدام وي
زمزمې د یار له غمه

## څلوریزه

د یار غمونو مې د اوښکو نه سیندونه جوړ کړل
له مرګه مخکې ځینو خپل ځان ته قبرونه جوړ کړل

احمده ستا قسمت کې د ښادي په نوم څه نشته
ورونه جدا شول هغوي خپل ځان ته کورونه جوړ کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژوند ناخوالې

ځلا کې ستوری د اسمان یادوم
افغانستان کې شین لغمان یادوم

چې هره شپه مې په ژړا تیریږي
لامل یې دا دی چې جانان یادوم

نه هم سکون او نه راحت وو پکې
هغه د مینې بد خفګان یادوم

زه او ستا غم به سره مل وو هلته
د غم کیسه ده بیابان یادوم

احمده نشته دلته ژوند د مینې
هغه مې هېر شو نور خپل ځان یادوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو بيتی

زه احمد درپسې ژاړم توره شپه کې
تا مدام له خدايه غواړم توره شپه کې

په کوم يوه کلي ک کې چې تا ګرانې خندا کړې ده
نن هغه کلي کې بې شميره جنازې ايښې دي

مخ دې ستورې د اسمان په شان ځليږي
را ونه ګورې چشمان مې خرابيږي

ګودر کې مه خانده نظره به شې
هلته بی شمير بدبينان ګرځيږي

شپه خدای پيدا کړه د راحت لپاره
مونږ ه بيا ټوله شپه ستا غم ژړوي

نه خنګ ته درتلای شمه او نه می هم له زړه ووځې
کله چې زه مړ شمه له کوره به راووځې

په کومه لاره چې تا تګ کړی دی
نن هلته شنه دي د ګلاب ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا چې دمور دعا اخیستې لاړ شه ویې ګوره
نن هغه خلک مصیبت په نوم څه نه پیژني

---

د خدای رضا د مور رضا ده ګوره
خفه یې نکړې چې ګناه ده ګوره

---

زه چې ژوندی ووم تا پوښتنه نه کړه
اوس مې د قبر خواته څله راځې

مکوه خندا راپسې خپله داسې نه کوم
ستا دلاسه یاره نن د غرو لمن کی شپه کوم

---

مکوه خندا راپسی مکوه
ستا دلاسه نن په دغه حال یمه

---

بڼ به څه کړمه چې یار مې پکې نه وي
زه به هغه بڼ ته ځم چی یار رادرومي

---

داسې مه چې زه ډیر ناتوان یم
بلکې وایه چې زه ویاړ د ټول جهان یم

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورتلای شم نه هغه رادرومي دلته
بس زموږ رسم او رواج دی چې څوریږو

---

ستا مینه قفس دی راوتل ترې ډیر مشکل ښکاري
زه دې الوتونکي په شان هلته زنداني کړمه

---

احمده ملنګي پسې دې خاندي
دا خلک لیوني دي  له ما واوره

---

تل بې فکره تل بې خوبه ستا د لاسه
زه احمد د ژوند کیسه وایم جانانه

---

راځه ګرانه راوخیژه ریکشې
نن دواړه سره ځو د یار کوڅې ته

---

چې له خبرو یې آزار وه خلک
نن هغه ژبه به په اور سوځیږی

---

د احمد زړه هم د شیشی په څېر دی
چې یو ځل مات شي نو بیا نه جوړیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل په وينو سور

موريې لاړمه زه خپلې وظيفې ته
که را نه غلم بيا رازه ته هديرې ته
موريې هره ورځ خو دلته جنازې وي
مدام اورم اعلانونه فاتحې وي
دلته نشته دانسان قدر عزته
چې مو وژني بيا يې دوي کوي صفته
دسرو وينو بارانونه راروان وي
وژل شوي د وطن ښکلي ځوانان وي
جنازې يې وي روانې سپين کفن کې
هر خوا چيغې وي ويرونه په ګلشن کې
نن کابل په وينو سور دی ګرځيدلی
هرې خوانه ورته ډير زيان رسيدلای
دکوچنيانو زړونه تل په رپيدا وي
مور د زوی تصوير ته ګوري په ژړا وي
په کابل باندې راغلې دغم شپې دي
جوماتونو ته روانې جنازې دي
د کفنن په پلورنځيو بيروبار دی
ټول په وينو باندې سور زمونږه ښار دی
زوی ويل مور مې را وغواړئ مړ کيږم
که مې ونه ليده هلته خفه کيږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه يې ورکړه د ليدلو ارماني شو
مورکۍ خپلې لور ته وايي زړه مې څه شو
مور خبرېږي چې مې زوی له دنيا لاړو
خفه کيږي چې مې ويارد سبا لاړو
هغه مور د زوی په غم کې نن کړيږي
باران اوښکې يې له سترګو نه توييږي
مورې نشته دلته قدر د انسانه
د حيوان په څېر مې وژني هر يو ځوانه
د وطن خاوره يې خرڅه په بل چا کړه
د يو ځوان يې کورنۍ ټوله تباه کړه
پاکه ربه مونږ نه شوې څه ګناه ده
چې مو هره شپه په ويښه تر سبا ده
هيڅ اميد له لاسه ورنکړې افغانه
د وطن خاوره ساته ښه په ميړانه
د احمد د خولې خولې وې مورجانې
ای وطنه زما زړه يې زما ځان يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ماشوم کیسه

نن درته زه دیوه کوچني ماشوم کیسه کومه
ویلی نشـــــــمه خو بیا هم لږ لږ زړه کومه

یو ګلالی مې ځنګ ته راغی او سلګۍ یې وکړې
سلګو نه وروسته د روپو غوښتو زارۍ یې وکړې

ما ترینه وپوښتل چې پلار دې کاروبار نه لري
ورونه دې څه کوي هغه هم کوم روزګار نه لري

ځواب یې راکړ کاکا پلار مې وفات شوی مخکې
ورونه مې نشته دي یوازې یم په دغه وخت کې

ما هم چې واوریدې خبرې ډیر خفه غوندې شوم
زه د دښمن پدې کارونو ډیر غوصه غوندې شوم

بیا مې ترې وپوښتل بچیه پلار دې څنګه مړ شو
ویل یې مـــکوه پوښتنه کاکا ژونـــــد مې خړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا اخـــتر وه نن مې پلار راتـــه څپلۍ راوړلې
له کار راغلی وو له ځـــان سره يې روپۍ راوړلې

زه هم خوشحال وومه سبا به هم خوشحال اختر وي
رنګين رنګين به وي سبا به د کمـــــــال اختر وي

مور. تر ناوخته پورې ويښ وو مور. کيسې کـــولې
په خوشـــــحاليو په نوبـــت مو زمـــزمـــې کولې

په ناڅاپۍ کې مې عجيبه شـــــانتې غـــړ. واوريده
زړه مې خـــفه شو او څه بل څه مې په زړه تيريده

ناڅاپي غږ. وشو او زمــــــــور. د کلي چـــــم ولړيد
زمـــــور. د ټول کلي په خـــلکو باندې غـــم ولړيد

پلار مې مور. کور کې کړو ايثار هغه د باندې ووت
د مــــــرمو ډز وه وار په وار هغه د بانـــــدې ووت

د ډزو وروسته کليوال ماشوم مې کـــــــورته راغلو
د دروازې په خلاصيدو مې ماشوم مـــور ته راغلو

او په سلګـــــو سلګـــــو ويل يې زما مور مخې ته
هم زه ولاړ وومه ويل يې زمـــــا خـــور مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا يې خبرې پوره کړې نــه وې پلار مــــې راغلی
په سپين کفن بانــدې پوښـــلی وو قرار مې راغلی

مــــور مې لاس پورته کړه له غمه يې دعا ورکړلـه
خور مې ژړلې په ژړلو کې يې ســــــاه ورکړله

اوس زه يواځې يمه مــور مې هم ناروغه کور کې
د پلار او خور له غمه ســــوځمه هميش په اور کې

نور وس مې نه رسي له خـلـــکو نه زکات ټـولوم
چاته زارۍ کومـــه چانه زه خــيرات ټــولـــوم

کــاکــا همدومره مې کيــــسه وه نـــور ويلی نشم
له دې دنيا نه مې زړه تــور دی ژونـــد کولی نشم

احــمــده بس کړه نور زه وس د اوريدو نـــه لـــرم
ډيـــــر مې ژړلي نور تــــوان د ژړيدو نـــه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټپې

هغه زما د سترګو تور دی
خفه يې نکړې چې مئين وربانديې يمه

څه ميړني ځوانان مې لاړل
څه مسافر شول څه د خاورې لاندې دينه

مورجانې مه راپسې ژاړه
مسافري ده څوک به ځي څوک به راځينه

جانان جانان به دې ويلې
اوس بې جانانه دې يواځـــې پاتې کړمه

غمازه نوره هڅه مکړه
پرمـــــا مئينه ده مـــدام مې يـــادوينه

درتللی نشمه جـــانانه
له ډېره غمـــــه دې ټپو کې يادومـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې راځې احوال دې راکړه
په هغـــه لاره کې به وشیندم ګلـــــونه

ځان ته لوګی ته سپېلني کـړه
ګل د ګلاب يې چې نظـــر نشې مئيـــنـــه

جانان زما په ښنګ کی ناست دی
د غمـــــازانو زړو کې اور ولــــبړيدنه

راځــــــه چی ځو دواړه پکتیا ته
ښکلی موسم دی دواړه وبه کړو سیلونه

آسمان کې ستوري په ځلا شول
د جانان غم مې ژړوي خوب نه راځينه

نـــه عملي نه نشه يـــي ووم
دا ستا غمـــــونـــــو شرابي کړمه مئينه

يواځې مه ګرځه جـــانـــانــه
وخت دې خراب ښوک به دې مړ راځيني کړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمده هسې په ما ګران يې
چې چيرته لاړ شې نو خـــــفـــــه درپسې يمه

## شيشه

په کانړو يې مه ووله شيشه ده هسې ماته نشي
زما د ژوند کيسه ترخه ده هسې ماته نشي

هغه د ګل خندېې ته وګورم راياده شې ته
د ګودر خنده په ګل شنه ده هسې ماته نشي

هغه لفظونه او يادونه چې دې ما سره وو
نن ترېنه جوړه زمزمه ده هسې ماته نشي

کلي کې ټول خلک لقب د ليوني راکوي
پټه مې خلکو نه خبره ده هسې ماته نشي

زه احمد تل ورته مثال د يوه ګلاب ورکوم
ای د ګلونو باغيچه ده هسې ماته نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آبرو عزت

د چا آبرو عزت ته سپک مه ګوره
د ځان وژلو ته ټوپک مه ګوره

د هر یو کار به دې بدل ووینې
درسره مل به وي عمل تر ګوره

د بل آبرو دې خپل عزت وګڼه
دا نصیحت واوره د زړه ټکوره

بدو انکار کوه وردرومه خو ته
احمده دا به نیکي لار وي ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د میت د زړه خبرې

قبر سوری کړه حال مې وګوره چې څه تیریږي
هله به پوی شی چی پر ما بد او که ښه تیریږي

د یوې سجدې نن ارماني یم چې ما ولې نه کړه
د عذاب غشې مې مدام په ښکلي زړه تیریږي

هرې ګناه راته بدل په سره انګار راکوي
د ځلاند مخ نه مې د تورې شپې تیاره جوړیږي

د ګناهونو ملګرتیا د لاسه نن داسې یم
آماده ګي نشته هر چیرته مقبره جوړیږي

زه احمد خلکو ته د نیکی لار غوښتنه کوم
نیکانو خلکو ته د قبر نه باغچه جوړیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خزان راغی

د پاڼو رنګ بدل شو داسې ښکارې چې خزان راغی
ماښام وو رڼايي شوه ما ويل ستوری د آسمان راغی

ګوره نن د هغه ستورې مخه وريځو ده نيولې
ښکاريږي راته داسې چې د غم اوښکو باران راغی

دوه تنه سره ناست وه فلک په لور کاته وکړه
غږ يې کړ ملګريه هلته وګوره جانان راغی

بد نظره يې سپوږمۍ چې نظر نه کړې مونږه دواړه
سپوږمۍ زه درنه لاړم زما مينه زما ځان راغی

زما هغه ځلاند ستوری نن د ژمی وريځو ورک کړلو
د څه مودې لپاره پر احمد د غم خفګان راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځوانۍ غفلت

هسې عبث مې زنده ګي تېره کړه
خلک راته وايي تا خاني تېره کړه

زما جهالت دوی ته خاني ښکاريده
اوس زه خبر شوم ما مستي تېره کړه

نن راته ځان بې پاڼو ونه ښکاري
زده کړې شوې پاتې ما مستي تېره کړه

مستي، خاني راته ګزار راکړلو
خنګه بې ګټې مې ځواني تېره کړه

پلار مې آرزو د نېکې لار درلوده
پر هغه زړه مې دښمني تېره کړه

احمد به هر وخت درته ویل بس کړه نور
هغې په ټولو پاچاهي تېره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مطلبي مینه

خبر یې چې زه ولې سرګردان یمه
دا ستا د بې وفا مینې جانان یمه

د شپې خوبونه نشته راحت هم نشته
زه هره شپه په ویښه د هجران یمه

د ورځې بې خوبي شي ستا یادونه شي
خو نن دا ستا له مینې پښیمان یمه

مطلب دې شو پوره له مانه لرې شوې
ته لرې شوې زه هم د کلي خان یمه

احمده ستا د مینې دا کیسه شوله
زه هم مدام ستا مینې ته حیران یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فاني دنيا

زما د سترګو نن د اوښکو باران
ښادي مې نشته مدام زه او خفګان

ښنګه خوشحال به وومه هغه وخت کې
چې راسره به وو په ښنګ کی یاران

په حــــقیقت یې چی وینـــــــا کوله
نن د هغه سړي شلېدلی ګریوان

د خداي رضا په دعا نه یادوي
څوک دنیا غواړي او څوک غواړي جانان

احمده دا څه لیونتوب دې وکړ
پر ځان دې ظلم کړې تا هېر کړ خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله

سوله ژوند آرامي ده په دنيا کې
بې له سولې به ته کومه شپه سبا کې

هره ورځ د قتل مرګ آوازې اورم
مور خپل زوي يادوي تل په خپل دعا کې

خپل وطن خاوره يې خرڅه په بل چا کړه
وايم دغسې انسان ربه تباه کې

نور پلورل د وطن بس کړئ وطنوالو
ستوري هم درنه خفه دي په سما کې

زه احمد د سولې ډېر ډېر آرماني يم
زه له هر چا ډير کړيږم په بيګاه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نیمو شپو ژړا

ته چې راسره یې لیلا زه مدام خندا کړمه
کله چې ته نه یې بیا تر نیمو شپو ژړا کړمه

ته خو زما ژوند یې لیونۍ ما هم خپل ژوند ګڼه
ستا راتلو لپاره په مانځه کې تل دعا کړمه

زما هم سوال قبول شو نن سبا به څنګ ته راشې
شپه ده ته راتلی شې که ډیوه درته رڼا کړمه

مینې دې زما د ژوند دنیا راته بدله کړه
راشه ګرانې راشه کنه ځان سره جفا کړمه

خپل د زړګي حال که درته ووایم خفه به شې
ځان باندې به غم تیر کړم خو تا سره وفا کړمه

کومه ورځ چې ستا بې وفایي راته ښکاره شوله
هغه ورځ به ختمه زه د خپل ژوندون دنیا کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستوري چی آسمان کی په ځلا شي ته رایاده شی
زه احمد به ستا له غمه دغه شپه سبا کړمه

---

## افغانستان

تور، سور، زرغون بیرغ رپانده په جهان لرم
شیرین، شیرین ګلشن، ګلشن افغانستان لرمه

سکون د شپې او سور ګلاب زرغون چمن په معنیٰ
ویاړم چې زه داسې سمسور ملي نشان لرمه

وطنه ستا هره دره راته ګلاب ښکاریږي
په منظرو باندې پوښلی نورستان لرمه

دښمنه واوره نوره هڅه د ویجاړ مه کوه
دلته بې شمیره سرنه تېر قهرمانان لرمه

وطنه تا به زه ساتم پر تا به ځان قربان کړم
چې سر نه تېر وي ګوره زه داسې ځوانان لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزني، کونړ، ننګرهار، لوګر، او شین لغمان مې یاد شي
ښکلې پکتیا کې بیا د دښتو بیابان لرمه

هلمند قندهار کی مې ویاړلي خلک ژوند تېروي
تاریخ زانګو ده په شمال کې بلخ بوستان لرمه

وطن د مور حیثیت لري ګوره چې پرې يې نړدې
احمد په شانتې بیا خوږ ژبي شاعران لرمه

---

بې ګناه وژنه

زه او ته چې نن یو بل سره جنګیږو
د کافر او د مرتد په نوم قتلیږو

زما او ستا خو وطن یو دی دین مو یو دی
دا د هغوي دماکي دي نه پوهیږو

راشه لاس د ورورۍ راکړه سره یو شو
د دښمن خلاف په صف کې به ودریږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره دغه آبادۍ کی یی مطلب دی
راشه بیا به په تیر حال باندې ژړېږو

زه احمد هم درته دومره نصیحت کړم
ګوره بیا به د دښمن اور کې سوځېږو

## مور

مور خو مور ده چې له زړه نه یې ویستلی نشم
هغه زما د زړه ټکور ده پریښودلې نشم

په ماشومتوب کې به یې چې ماته آلولو کوله
هغه بې شانه زمزمې زه هېرولي نشم

د مور د پښو لاندې جنت دی احترم به یې کوم
هغه په سترګو کې د غم اوښکې لیدلې نشم

د خداي رضا د مور رضا ده دا حدیث دی ګوره
هغې په مخ کی زه په لوړ غږ غږېدلې نشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمده پام چې د مور جانې دې ازار وانخلې
مورې دعا راته کوه ښنګ ته درتلې نشم

---

## خدایه شکر

خدایه شکر چې پیدا دې مسلمان کړم
امتي دې د نبي اخر زمان کړم

ستا رضا زما په کار ده لویه خدایه
دین به ساتمه پر دین به ځان قربان کړم

ښکلی دین باندې که هر څومره ځورېږم
حق به وایم همیشه به حق بیان کړم

ای نبي(ص) ستا د حدیثو پیروان یم
ستا حدیثو نیکې لارې ته روان کړم

ما احمد باندې پېرزو کړه چې در درومم
ربه ستا ښکلې کعبې هر وخت ارمان کړم

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خزان

پرې مې ږده خزانه چې سپرلی شمه
ډېر یم سر ګردانه چې سپرلی شمه

غوړ شه د یار غمه درته څه وایم
لرې شه له مانه چې سپرلی شمه

واورې باران اورې ورتلی نه شمه
مه اوره آسمانه چې سپرلی شمه

تل راسره اوسه تل مې زړه یې ته
مړ یم بې له تانه چې سپرلی شمه

مه ځه رانه چرته که زما ژوند غواړې
واوره احمد جانه چې سپرلی شمه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**